# باچا خان
# نورې دنیا سره معرفي کول پکار دي

علي ګوهر

فخر افغان خان عبدالغفار خان په یو داسې وخت کښې دې دنیا ته راغلے وۀ چې پښتانۀ د انګرېز په غلامۍ کښې ښکېل وو او په غلطو رسمونو رواجونو کښې راګېر وو، خپلو کښې تربګنو او دشمنو پښتانۀ دې حال ته رسولي وو چې د غاصب پېرنګي نه د ځان خلاصولو په بند بنا نۀ پوهېدل. دغه وخت کښې د باچا خان غوندې انسان سخت ضرورت محسوس کېدۀ.

د پښتنو دغه حال چې باچا خان ولیدو نو هغۀ د دې خور اور او تس نس قوم د راغوندولو او پوهولو دپاره ملا وتړله. هغه په دې خبره ډېر ښۀ پوه وۀ چې د پښتنو د پسماندګۍ وجوهات څۀ دي او دا به څۀ رنګه لرې کولے شي. نو هغۀ د پښتنو د اصلاح دپاره یو تحریک شروع کړو. د دې تحریک کار کۀ یو خوا د پښتنو نه د غلطو رسمونو رواجونو ختمول وو نو بل پله پښتانۀ د تعلیم په کالو ښائسته کول هم وو. پښتنه معاشره دغه وخت کښې د شر شدت نه ډکه وه او بې علمي هم پکښې ډېره زیاته وه. باچا خان دغه د شر او شدت نه ډکه معاشره په امن بدلول غوښتل. بدلون له دوو وجو نه راځي یو د ویرې نه او بل د ضرورت نه. او هغه وخت کښې دا دواړه وجې موجودې وې. ویره دا وه چې پښتون د دومره یو لوئے طاقت سره شر نۀ شي کولے او ضرورت دا وۀ چې پښتانۀ بې علمه او بې سواده وو. د غلطو رسمونو او رواجونو سره مخامخ وو. باچا خان وړومبے کار دا وکړو چې د علم په ذریعه ئې د پښتنو د اصلاح کوشش شروع کړو خو د هغه وخت د ملیانو سره مخامخ شو چې وئیل به ئې:

سبق د مدرسې وئي
دپاره د پېسې وئي
جنت کښې به ځائے نۀ وي
دوزخ کښې به غوپې وئي

زۀ دغې خلقو ته عالمان نۀ وایم ځکه چې عالمان دوه قسمه وي. په انګرېزۍ کښې یو ته preacher واعظ وائي او بل ته Teacher یعنې استاذ وائي. واعظ هر څۀ وئیلے شي ولې استاذ د دیني علم په زور ښودنه کوي. باچا خان هم د دغسې عالمانو استاذانو په صلاح مشوره مدرسې جوړې کړې چې د پښتنو نه جهالت لرې کړي.

د باچا خان دوېم کار د رسم او رواج خلاف جنګ وۀ. هغه رواجونو کوم چې پښتنو د شرم یا خلق به څۀ وائي له وجې خپل کړي وو. باچا خان د

دې غرض دپاره د خپل ځان نه رول ماډل جوړ کړو. د خانۍ نه ملنګۍ ته راغے. ساده جامې، يو خوراک په جومات او حجره کښې ورځې شپې تېرول ئې شروع کړل. بيا ئې د دشمنۍ او بدل نه خبره مينې او محبت او وروروليۍ ته راوسته. په بخښنه، ننواتې او معافۍ ئې زور راوړو. د پښتون قوم نه ئې ((زۀ يم)) ورک کړو او د يو تحريک لاندې ئې منظم کړل. زۀ د باچا خان د عدم تشدد د فلسفې پېش کولو نه مخکښې ستاسو توجه يو څو خبرو ته رااړول ضروري ګڼم.

يوه دا چې د څنو خلقو خيال دے چې باچا خان د عدم تشدد فلسفه د ګاندهي جي نه زده کړې وه.

دوېم دا چې کله بهر دنيا کښې د ګاندهي جي خبره شروع شي نو باچا خان د هغۀ د سېورې لاندې پټ شي.



زۀ په دې خبره حېران يم چې باچا خان خپل تحريک په کال **1910** کښې شروع کړے وۀ. او ګاندهي جي هندوستان ته په **1925** کښې راغلے وۀ او پښتونخوا ته په **1938** کښې راغلے وۀ او چې کله ئې دلته لس لکه خدائي خدمتګار وليدل نو حېران شو او دغه شان يو تحريک ئې خپله د شانتي سينا په نوم شروع کول وغوښتل خو دوه ورځې پس قتل کړے شو.

باچا خان خپله وائي چې زما په رګونو کښې هم د پښتون ګرمه وينه موجوده وه. خو کله چې ما د پېغمبر صلي الله عليه وسلم مکي ژوند مطالعه کړو نو په ما کښې هم د عدم تشدد جذبه راپېداره شوه. بل ځائے کښې وائي چې د عدم تشدد فلسفه زمونږ دپاره څه نوې نۀ ده. دا فلسفه زمونږ خوږ پېغمبر صلي الله عليه وسلم د نن نه څوارلس سوه کاله مخکښې شروع کړې وه خو چې کله ګاندهي جي دا خبرې شروع کړې نو مونږ ته نوې ښکاره شوې.

د مسلمان دپاره يو څو خبرې ډېرې اهمې دي. په تکليف کښې صبر، او د ځان محاسبه کول ځکه چې تکليف د خپل بدعمل په وجه انسان ته رسي او په راحت کښې شکر ويستل. ځکه چې هر څيز د الله له طرفه وي او هم د هغۀ شکر ويستل پکار دي. په هر حالت کښې عاجزي اختيارول. الله پاک سره هر څۀ شته خو عاجزي نشته او دا ئې انسان ته ورکړې ده. مونږ ټول د الله پاک په وړاندې عاجزان خو يو ولې خپلو کښې په عاجزۍ ژوند تېرول او د يو بل په کار راتلل پکار دي.

دا ټولې خبرې باچا خان د عمل، يقين او محبت په ذريعه خپلې کړې وې. د خدائي خدمتګار

ورومبنے هدف دا وۀ چې الله پاک ته د خدمت ضرورت نشته د هغۀ د مخلوق خدمت د هغۀ خدمت دے. خدائي خدمتګارو سره د مشرانو جرګه هم وه. چا چې به اهمې فېصلې کولې. جرګه کښې د نن زمانې د ضرورت مطابق درې واړه اړخونه موجود دي. کوم چې دا وخت نورې دنيا خپل کړي دي. Peace making جرګه امن جوړوي او جرګې کوي، تيره ړدي چې مخکښې امن ته لاره جوړه کړي. دوېم Peace Building دے چې پکښې سياسي، معاشي، سماجي لارې چارې ټاکل وي. او درېم Peace Keeping دے امن ساتل. د باچا خان د لښکر په ځائے د خدائي خدمتګارو نه د عدم تشدد په لاره کار اخستو. اوس دلته ګاندهي جي د کوم ځائے نه راغلو. د ګاندهي جي نمسي راج موهن ګاندهي خپله د نيويارک په کانفرنس کښې په ډاګه ووې چې ما ته باچا خان ښو ځله وئيلي وو چې عدم تشدد ما د خپل دين نه زده کړے دے.

دوېمه خبره دا چې د ګاندهي جي ذکر راشي نو د باچا خان ذکر پټ کړي. نو دا زمونږ کمزوري ده. ما خپله په امريکه کښې کله چې د خپلې پروفېسرې نه دا دوه نومونه (مارټن لوتر کنګ او ګاندهي جي) بيا بيا واورېدل نو صبر نۀ شوم او ورته مې ووې چې يو درېم تن هم شته. چې نوم ئې عبدالغفار خان دے تا خو د هغۀ باره کښې هيڅ ونۀ وئيل. يوه هفته مخکښې هلته د نائن الېون واقعه شوې وه او په امريکه کښې پښتانۀ طالبان د هر چا په خُلۀ کښې وو. زما پروفېسرې ما ته ووې چې عبدالغفار خان خو نۀ پېژنم البته د باچا خان نوم مې په يو کانفرنس کښې اورېدلے دے خو په هغۀ څۀ کتاب يا ليک مې نۀ دے لوستے. زما يو ملګرے پښور يونيورسټۍ کښې په جيالوجي ډيپارټمنټ کښې وۀ او پښتو ژبې سره ئې ډېره مينه وه، ما هغۀ سره يو کتاب ليدلے وۀ. The non violent Soldier of Islam, The man to match his Mountains دغه کتاب مې راوغوښتو. هغې چې دا کتاب ولوستو نو سمه لېونۍ شوه او دا ئې د امريکې ټولو يونيورسټو ته د اي مېل په ذريعه واستولو او دغسې هلته باچا خان پېژندل شروع شو.



وروستو يو بل پروفېسر په واشنګټن يونيورسټۍ کښې دا کتاب په عربۍ ترجمه کړو او په عراق کښې ئې په ټرېننګونو کښې شامل کړو. اوس يو کتاب په سري لنکا کښې هم چاپ شوے دے. چې باچا خان د مارټن لوتر کنګ او ګاندهي جي نه پس په درېم نمبر دے. کوشش پکار دے چې باچا خان بهر دنيا سره معرفي کړے شي ځکه چې اور هم دلته بل دے او بيا دا کار د ټولو نه اول باچا خان شروع کړے وۀ او دا وخت خلقو ته د هغۀ د دې

عـدم تشـدد د نظريـې ضـرورت دے. خـو دا کـار زۀ يواځې نۀ شم کولے تاسو ټولو پوهانو، ليکوالـو تـه خواست کوم چې د باچا خان د عدم تشدد فلسفه نۀ صرف خپله کړئ بلکې بهر دنيا ته ئې هم وښيئ او د هغـوي پـه ژبـو کښـې ئې ورتـه وړانـدې کـړئ او دا د باچا خان په مونږ يو حق دے.

(ښاغلي علي ګوهر دا خبرې په مئ **2008** کښې پـه افغانسـتان کښـې د باچـا خـان امـن سـيمينار پـه موقعـه کړے وې)